« یو ځوخبري » د حقیار صاحب هغه لیکنه ده چي له دوستانو څخه بي مننه ځرگنده کړي ده را ځو دي ته چي د حقیار صاحب کتاب په څه پیل کیږي . تاسو ته ښه معلومه ده چي حقیار صاحب یو شعوري او عقیده وي مسلمان دي ځکه تر هر څه لومړي د سباوون په وږمو کي «حمد» لیکي .

انځور دفن بي سترگو کي زما زړه ویستلي دي
دا خداي نه دي نو وایه خداي بي ځومره ښکلي دي ؟!

نور نو «د سباوون وږمي» پیل کړي او په ټولیز ډول په شمار ۸۸ سرلیکه شعرونه په مختلفو شعري چوکاټونو یا شعري فورمونو کي را خوندي شوي دي. رښتیا! د دوتني د لومړي مخ په شپږو رنگو رنگین انځور د غره په سر د نیم لمر راختل د کوچیانو کیږدي ، دغره په لمن کي د رنگارنگ ونو تصویرونو او د شني وپالي په منځ کي د شنو اوبو بهیر ، دلاله گلونه ، دوني بوه ځانگه انسان ته د سباوون وږمي دم په دم وربه یادوي همدارنگه د دوتني په څلورم مخکي د حقیار صاحب لنډه پېژندنه لیکل شوي ده .

موږ له ستاسو سره دومره مرسته وکړه چي د «سباوون له وږمو» څخه مو خبر درکړ کنه د داسي ټولگي لپاره به ډېر لیکوالان خپل قلمونه او هڅي په لار واچوي .

اوس همدومره
د شعر او ادب د اداري مسؤول «بادمن»

ځلوریځې

چي پکي لوي شي بي مصلحته
خونه خالي شي له برکته
تر بد بخت زویه نیکبخته لور ښه ده
فرزند دي نه وي بي سعادته

خوشحال بابا

طامع همیش وي په انتظار کښي
آب بي د مخ ځي په هر دربار کښي
گنج چي د صبر پیر محمد بیا موند
توانگر باله شي په دا دیار کښي

پیر محمد کاکړ

«حمزه» څه شي په داکه مال او زر لري څوك
مالك د تخت او تاج وي او لښکر لري څوك
جوهر چي د حیا بي په لیمو کي نه وي
تري تښتنه په دنیا کي که کوثر لري څوك

حمزه بابا

مسخره مي کړلي نوري بازاس
چي مي روي ستا د مېني ترانې
ابدي مي کړه وطنه د تا مینه
زما غـږ نشي وژلي زمانې

«رفیع»

په اسلامي نړۍ کي

د سائنس او تکنالوجي اوسني او راتلونكي بهير

لیکوال : د اسلامي نړي سائنس پوه داکتر عبدالقدیر خان

لمړي برخه

ژباړونکي : داکتر محمد نذیر «احمدزي»

« روایه چي اي زما ربه زما علم زیات کړه» . د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد«ص» ته د الله«ج» دغه حکم دا ځرگندوي چي د قرآن کریم له نظره علم او زده کړه څومره ارزښت لري همدا شان حضرت رسول اکرم«ص» په خپله دا دعا کړي چي « اي زما ربه مـا د اشیا و په هکله په حقیقي علم سره سر لوړي وگرځوه» د لوي خداي«ج» په دربار کي دغه دعا یواځي د معلوماتو د زیاتوالي لپاره نه بلکه د هر څه په هکله د حقیقي علم لپاره ده، د حقیقت کلمه له معنوي او مادي پلوه په څو ډوله ویشل شوي چي په دي ویش کي ټ ساینس ټولي څانگي هم شاملي دي.

دغه نړي چي موږ په کي ژوند کوو دلته ځمکه، هوا، سمندرونه، ستوري او د کایناتو نور اجزا په ښکلي انداز سره موجود دي دلته بي شمیره داسي وگړي شته چي ددي موجوداتو په حقیقت موږ پوهوي، کله چي موږ له ساینس څخه خبري کوو نو موږ ته د «تهیلس» او «فیثاغورث» نومونه له ورایه ځرگندېږي تاریخي پیښي دا ښیي چي په انسان کي داسي یو احساس موجود دي چي هغه د پلټني او تحقیق لوري ته هڅوي لکه څنگه چي ارسطو ویلي « د انسان په فطرت کي دا خبره نغښتي ده چي هغه به د پلټني هیله لري» په رښتیا هم د علم د زده کړي هیله د پیدایښت له وخته له انسان سره موجوده وي لکه څنگه چي قرآن کریم کي هم راغلي دي « او زده کړل موږ آدم«ع» ته نومونه ټول» د علم د ارزښت اندازه له دي څخه هم روښانه کیږي چي زموږ ستر لارښود «ص» فرمایلي « علم زده کړي که څه هم په چین کي وي په دي حدیث شریف کي ژبني او وطني تعصبات په کلکه رد شوي، نر د تیرو ارشاداتو په رڼا کي دا جوته کیږي چي دعلم زده کړه او د اشیاو د حقیقت پلټنه د اسلام یوه برخه ده ، د تاریخ په اوږدوکي هغه مهال چي مسلمانانو علم ته د ارزښت په سترگه کتلي وو نو د مسلمانانو ملکونو ته د «بیت الحکمة» او «نظامیه» لقبونه ورکړل شوي وو، هلته د څیړنو لپاره لابراتوارونه جوړ شوي وو او د نړي له گوټ گوټ نه به انسانان د زده کړي لپاره دلته راتلل، د مسلمانانو فني ماهرین فلسفي پوهان او ساینسدانان په نړي کي د علم ستري ذخیري وي چي د پلټني او کشفیاتو پوره جذبي ورسره وي فارابي، ابن سینا ابن شد، خوارزمي، رازي، مسعودي، البیروني، وافا، طوسي، نصیر الدین ابن نفیس، ابن بجاج، ابن عقیل، الکسندل، د هغوي شمیره اسلامي پوهانو له ولي څخه دي چي د علم ډیوي بي د بشري نسل لپاره د څو پیړیو په اوږدو کي روښانه وساتلي. د افسوس خبره دا ده چي غربي نړي یوناني پوهان د ساینسي علومو مخکښان بولي حال دا چي یوناني پوهانو له اسلامي نړي او د مسلمانو پوهانو له آثارو څخه گټه اخیستي او هغه وخت اسلامي هیوادونه د علومو ستر مرکزونه وو او اروپا د جهالت په تورو تیارو کي ډوبه وه، په قرآن کریم کي دا خبره چي «هر هغه څه چي په اسمانو او ځمکه کي دي تاسي ته به بي تابع کړم» د تحقیق او ساینسي پلټني په لور د هڅوني ښکاره دلیل دي او د عقل او سوج د خاوندانو لپاره ضروري ده چي په کایناتو کي د موجودو اسرارو په هکله پلټنه وکړي او دساینسي تکنالوجي له لاري اسلام او انسان ته خدمت وکړي د بي مثاله برم او علمي تاریخ لرونکو مسلمانانو لپاره دا خبره د فکر او افسوس ده چي هغوي د ساینس ، تکنالوجي او پلټني په میدان کي د مړو حیثیت لري، د اسلامي او غیر اسلامي هیوادو تر منځ ساینسي واټن دومره اوږد نه و لکه څنگه چي نن دي او له مسلمانانو سره هم هیڅکله له نورو څخه د وروسته پاتي کیدو نظریه موجود، نه وه لکه چي نن ده . اما افسوس

چي په اوسني عصر کي غیر اسلامي نړي د ساینس او پوهي په ډگر کي تر مسلمانانو ډېر پر مخ تللي نو ځکه په مسلمانانو د حکمراني خوبونه ویني حال دا چي د غیرت او سربښندني په ډگر کي له مسلمانانو سره سیالي نشي کولاي!! د مسلمانانو د وروسته پاتي کیدو دلایل ډېر دي یو خو دا چي د اوسني عصر مسلمانانو له اسلام او قرآن څخه په حقیقي معني پیروي نه ده کړي او لکه څنگه چي د اسلام غوښتنه ده هغه شان بي اسلام نه دي پیژندلي، دوهم دلیل دا کیداي شي چي په څوارلسمه پیړي کي اسلامي نړي د مغولو له وحشیانه حملو سره مخامخ شوه او خپل ټول علمي او څیړنیز مرکزونه او وسایل بي له لاسه ورکړل . په اتلسمه او نولسمه پیړي کي د اسلامي هیوادونو د ځنو نا اهلو مشرانو د غلطو پالیسیو له کبله غربي استعمار ځیني اسلامي هیوادونه تر پښو لاندي کړل او ځرنگه چي هغه مهال اروپا ښه پر مخ تللي وه او مسلمانانو له اروپائیانو سره دښمني لرله نو ساینس او تکنالوجي ته هم د اروپا د توکي په سترگه وکتل شول او مسلمانانو بي له زده کړي څخه ځان بوي خواته وساته .

همدارنگه غربي واکدارانو هم ددي لپاره چي مسلمانان ویده پاتي شي او له دوي سره د سیالي توان پیدا نه کړي په عامو مسلمانانو کي له غیرو مستقیمو لارو دا تبلیغ په لاره واچاوه چي گواکي ساینس او تکنالوجي د کفري نړي پیغام دي او باید دښمني ورسره وشي، هغه مهال فقط هغه چاپو څه زده کړل چي د غربي استعمار د نظر وړ ؤ او په بوه نه بوه توگه بي د هغوي خدمت کاوه، له دوهمي نړیوالي جگړي څخه وروسته چي اروپایي استعمار ختم شو غربیانو داسي هڅي په کار واچولي چي آزاد شوي اسلامي هیوادونه دي دوي ته اړ وي او د ساینس او تکنالوجي په ډگر کي دي دوي ته لاس ونیسي، خپله هیڅ یوه تکنالوجي بي په مکمله توگه مسلمانانو ته وړ زده نه کړه بلکه د پهلواني د استاذانو په څیر بي اصلي چال او تخنیك له ځان سره پټ وساته، همدارنگه پر مخ تللو او د پرمختگ په حال کي هیوادونو اصطلاحات بي په نړیواله سطحه عام کړل او مسلمانان بي په دوهمه ډله کي وشمیرل تر څو په فکري او ذهني لحاظ له مسلمانانو سره دا نظریه باقي پاتي شي چي هغوي وروسته پاتي دي او د پرمختگ په خاطر باید له پر مخ تللو هیوادو څخه هر څه زده او یا تر لاسه کړي تر څو مسلمانان د ساینسي پلټني، علمي زېږندو او پر مختیاو له توان څخه څانوت بي بي وشمیري همدارنگه غربیانو د اسلامي نړي د ساینس تکنالوجیکي وروسته پاتي کیدو لپاره ډول ډول پلانونه طرح کړل او وخت په وخت بي له هغو څخه کار واخیست پر اسلامي نړي بي د داسي وسایلو بندیزونه ولگول چي هغه دي د مسلمانانو د پرمختگ لپاره تیار کړي او د اسلامي نړي پیدا وار بي هم په داسي شان تړنه تر لاسه کړل چي بیا بي د مسلمانانو هیڅ درد هم دوا نشي کړلي (لکه د اوپیك یا د نړي د تیلو د صادرونکو هیوادو د ټولني له لاري بي د مسلمانو هیوادونو د سټري هستي یعني تقشو صادراتو ته دومره اندازه اجازه ورکړل شوه چي عواید بي فقط د غړو هیوادونو چي اکثره اسلامي عربي هیوادونه دي ورځني ضروریات او د عیاشو واکدارانو مصارف پوره کړي.

همدارنگه د پوهي او تخنیکي وسایلو د مرستو له لاري بي هم مسلمان هیوادونه خپل پوروړي وگرځول چي دا پورونه ورځ په ورځ زیاتیږي او مسلمانان پرته له دي چي ددي پورونو د ورکړي لپاره خپله ششمتي راټوله او مصرف کړي بل څه نه پام نشي کولي - مترجم- او په دي توگه له اسلامي نړي سره دا قوت پیدا نشي چي له هغوي سره د مقابلي طاقت دي ولري - همدارنگه د نړیوالو مالیاتي ادارو لکه آي . ایم . ایف او نړیوال بانك په حوررولو سره بي داسي شرایط او حالات را مینځته کړل چي د مسلمانانو پرمختگ دي تا ممکنو گرځي پاتي لري

تأمین صلح و ثبات در ...

تبادل نظر نمودند در جریان همین ملاقات وزیر امور خارجه ازبکستان از مقامات امارت اسلامي افغانستان دعوت بعمل آورد تا در جلسه کشور هاي ۲+۶ که در کشور ازبکستان داير ميگردد اشتراك ورزند که از جانب امارت اسلامي افغانستان در اين رابطه اظهار آماده گي گرديد و گفته شد که نماينده امارت اسلامي منحيث نماينده حکومت در آن جلسه اشتراك خواهد کرد بالمقابل وزير امور خارجه ازبکستان گفت که ما در اين رابطه مشوره خواهيم نمود مذاکرات و گفتگوي وزير امور خارجه ازبکستان با مقامات امارت اسلامي افغانستان در فضاي کاملاً دوستانه انجام گرفت و هر دو طرف به ادامه ديدار ها ملاقات ها و تحکيم هرچه بيشتر روابط و مناسبات ميان هر دو کشور تاکيد ورزيده آماده گي کامل شانرا در اين رابطه ابراز داشتند.

د یونان د C.C.C کمپنی ...

د کانو او صنايعو وزارت او ددغي کمپني تر منځ د پخواني پروتوکول له مخي په دي ورورستيو وختو کي افغانستان ته راغلي دي چي له نږدي د هيرات ولايت د تيلو او گاز د ځاگانو د فعالولو د امکاناتو په باره کي خپلي مقدماتي څيړني تر سره او بشپړي کړي .

دغه هيأت د کانو او صنايعو وزارت له معين محترم مولوي عبدالسلام ضعيف سره پداسي حال کي چي د هرات ولايت د نفتي ځاگانو د فعالولو د امکاناتو او له هغوي نه د گټي اخيستني د څرنگوالي په باب گټوري او ارزښتناکي خبري وکړي او ددغي کمپني هيأت د هرات ولايت د احمد اباد او د تير پل د تيلو ځاگاني پداسي حال کي چي ددغه ولايت د کانو او صنايعو رئيس محترم ملا حبيب الله اخند هم ورسره و له نږدي وکتلي او هيله يي څرگنده کړه چي له هغوي نه گټه واخيستل شي.

پیښې او مختلفګونه حادثات و انکشافات

په نوي دهلي کي سخته چاودنه شويده

د هند په پايتخت دهلي کي د کيمياوي موادو د بوي زيرمي د چاودني له امله لس تنه ووژل شول او شپيته تنه نور ټپيان شول. د سيمه ييزو مقاماتو د څرگندونو له مخي د چاودني او د اور لگيدني سختوالي دومره زيات و چي بو شمير لارويان د کيمياوي موادو ددغي زيرمي له څنگه د تيريدو په وخت کي چي په يوه ترانسپورتي شرکت پوري اړه درلوده په هماغه لو مړيو شيبو کي ووژل شول. د هند د روغتون مقاماتو ويلي دي شايي ددغي پيښي د ټپيانو او وژل شويو کسانو شمير لا پسي زيات شي.

در اثر اصابت مرمي هاي قواي هند ۹ طفل در کشمیر آزاد به شهادت رسیدند

در اثر اصابت چند مرمي بر يك مکتب که از طرف سربازان هندي پرتاب شده است در کشمير آزاد نه طفل به شهادت رسيدند مقامات پاکستان سربازان هند يرا متهم کردند که به عمد مناطق مسکوني را هدف قرار ميدهند.

به قول مقامات پاکستاني در اسلام آباد در اثر اصابت سه مرمي بر مکتب مذکور نه طفل شهيد و تعدادي هم زخمي شده اند. سربازان هندي با اينگونه اعمال وحشيانه به تحريکات نظامي خود در کشمير تحت اشغال و کشمير آزاد ادامه ميدهند.

د اروپایی اتحادیې له خوا پر نایجریا باندې لګول شوې بندیزونه لرې شول

د اروپا اتحاديي په نايجريا کي غير پوځي دولت ته د واك له سپارلو وروسته ددغه هيواد پر خلاف لگول شوي اقتصادي بنديز لري کړ . د اروپا اتحاديي په ۱۹۹۵ ميلادي کال کي کله چي د ثاني اباچا په مشري په دغه هيواد کي نظامي حکومت واکمن و د نايجريا په خلاف يي په اقتصادي بنديز لاس پوري کړي و . تير کال د ثاني اباچا ناڅاپي مړيني په نايجريا کي د نظامي ديکتاتوري د پنځلس کلن حکومت د له منځه وړلو او دموکراسي ته دغه هيواد د ستنولو لپاره لاره اواره کړه . د نايجريا نوي جمهور رئيس د فبروري په مياشت کي ددغه هيواد د جمهور رئيس په توگه وټاکل شو او د تيري شنبي په ورځ يي د عبدالسلام ابوبکر په مشري د نايجريا د نظامي حکومت ځاي ونيوه چي په ژمني باندي د وفا په کولو سره يي واك غير نظامي دولت ته پريښي دي.

آغاز تلاش هاي جديد جهت حل مسئله کوسووا

ديروز تلاش هاي گسترده ديپلوماتيك در مورد حل مسئله کوسووا آغاز شد که براي دو روز دوام خواهد کرد . ويکتور چرنو ميردين فرستاده خاص روسيه در بالکان گفته است در مذاکرات اخيرش با مقامات يوگوسلاويا دربلگراد پيشرفت هايي داشته است .

ويکتور چرنو ميردين عازم المان است تا در آنجا با نماينده گان امريکا و اتحاديه اروپا گفتگو کند. دولت يوگوسلاويا گفته است حاضر است اصولي راکه کشور هاي موسوم به گروه هفت و روسيه براي پايان يافتن جنگ مهيا کرده اند بپذيرد اما هنوز معلوم نيست که حاضر باشد اجازه دهد نيرويي به سرکرده گي ناتو براي تضمين صلح وارد کوسووا شود.

انتظار ميرود رئيس جمهور فنلند که به نماينده گي اتحاديه اروپايي در مسئله ميانجيگري مينمايد روز چارشنبه هنگام بازگشت ويکتور چرنومردين به بلگراد او را همراهي کند تا از مقاصد و نظرات اخير دولت يوگوسلاويا اطلاع حاصل کند.

اتخاذ تدابیر جدید جهت حفظ نسل فیل در افریقا

در افريقاي جنوبي براي حفاظت از نسل فيل ها اين حيوانات را گله گله از زادگاه اصلي شان به مناطق دورتري کوچ ميدهند.

يك منبع حفاظت از حيوانات در افريقاي جنوبي ميگويد از مدتي است که در افريقاي مرکزي و شرقي تعداد فيل ها رو به کم شدن ميرود و علت آن هم اين است که مردم در خفا فيل ها را ميکشند و دندان هاي آن ها را براي بدست آوردن پول بفروش ميرسانند اما در افريقاي جنوبي وضع به شکل ديگري است به اين معني که براي نجات دادن فيل ها پروگرام هايي در دست اجرا است که با تطبيق آن از نابودي نسل فيل بخوبي جلوگيري شده است و روي همين پروگرام است که با کثرت روز افزون فيل ها جا هاي رهايشي براي آن ها تنگ تر شده ميرود بر طبق همين پروگرام در ولايت ناتال افريقاي جنوبي تعداد زياد فيل ها جمع آوري و در بخشهاي شمالي افريقا که صد ها کيلو متر از شهر دور است انتقال داده شده اند موسسه حفاظت از فيل ها در افريقاي جنوبي ميگويند اگر چه انتقال فيل ها از يك جا به جاي ديگر کار ساده نيست اما با حوصله مندي تمام اين کار با هدف جلوگيري از کم شدن فيل ها صورت ميگيرد.

د امريکايي پوځ بو پخواني بريدگي علي محمد :

پر اسامه باندې د امریکې لګول شوې تور تورونه سیاسي دي

زما په باب په محکمه کي عادلانه اجراات نه کيږي

نيويارك: ان.ان.آي د امريکا د پوځ بو پخواني مسلمان بريدگي چي اوس امريکا له اسامه بن لادن سره د اړيکو د درلودلو په تور نيولي دي ويلي دي چي په اسامه د امريکا له خوا لگول شوي تورونه تول سياسي دي او بو هم واقعيت نه لري . علي محمد ويلي دي چي امريکايي محکمه د هغه په باب هم عادلانه اجراات نه کوي، امريکا وايي چي علي محمد **اسامه ته مهم معلومات برابروي اوله هغه سره يي لاره وه خو هغه دغه تورونه رد کړي دي.**

کار ترمیم و تجهیز ...

مردم مسلمان و متدين شهر ميمنه دست به يك سلسله ترميمات و باز سازي شهر زيباي ميمنه زده است منجمله ترميم سرك هاي داخل شهر و جاده ها و سرك عمومي کته کم و منطقه سبز به شمول سرك بين شهر ميمنه و ولسوالي گرزيوان با وجوديکه در ساحه شاروالي قرار ندارد در تسطيح و جغل اندازي آن اقدام مسؤولانه نموده است .

همچنان ترميم هوتل رياست شاروالي ميمنه به سرعت جريان دارد به تهيه و تدارك فرش و ظرف ظرف ضرورت آن نيز اقدام جدي و عملي صورت گرفته است . رياست شاروالي ميمنه مخصوصاً شخص خودم که مدت دو ماه از تقررم سپري نگرديده است يك قسمت تعمير دفتر رياست شاروالي از ترميم بر آمده و به خاطر حل مشکلات پرسونل اين رياست يك حلقه چاه از چوکات اين رياست حفر گرديده و عنقريب مورد استفاده قرار خواهد گرفت .

در مورد تطبيق ماستر پلان شهر بايد گفت : پروژه قوريه افغان کوت، تاتارخانه و تکلي خانه شهر ميمنه که يك قسمت کار آن بعد از استملاك از طرف هيأت مؤظف مقام ولايت وقت در پروژه هاي فوق الذکر صورت گرفته البته متباقي کار آن در پرتو فرامين عاليقدر امير المؤمنين روي دست بوده به نصرت خداوند عزوجل و همت مردم، آبادي اين شهر تاريخي تجديد و انکشاف داده خواهد شد.

با دارالایتام شهر ...

آور شده است موسسه در رابطه به وضعيت عمومي دارالايتام و شرايط بود و باش يتيمان در ان چنين علاوه نمود.

ما اطفال يتيم و بي سرپرست را بعد از تصديق وکيل و اهالي منطقه بدون کدام مشکل مي پذيريم ، در حدود سي تن از خواهران وظايف تدريس و غيره خدمات حرفوي و امورات روزمره را به عهده دارند البته در حصه اعاشه شاملين دارالايتام که بر شش صد طفل بالغ ميگردد موسسه ملل متحد از حيث آرد و روغن ما را مساعدت مينمايد. دارالايتام اناث داراي پوليکلينيك و دواخانه نيز ميباشد ما تمام مؤسسات خيريه و مسلمانان خير انديش را به کمك بااطفال يتيم و بي سرپرست کشور عزيز خويش دعوت مينماييم تا توانسته باشيم از اين طريق اطفال يتيم و لا وارث افغان را به گونه احسن تربيه و پرورش نموده و در آينده از آنها انسان هاي تعليم يافته ، صالح و خدمتگار دين و وطن بار آوريم.

ریاست حج و اوقاف ...

وظايف تبليغي را در مساجد و محافل و قراء و قصبات شهر بخاطر اتحاد و اتفاق از ديدگاه اسلام جهت روشن ساختن اذهان هموطنان هميشه سعي و تلاش بيْ دريغانه نموده و بعد از اين هم آماده خدمت درين راه هستند و نيز امامان مساجد شهر و محلات ضمن امامت، حلقه هاي تدريس علوم ديني را ايجاد نموده و تقريباً بلا وقفه تدريس شان ادامه دارد و شکل رسميات را بخود گرفته که زحمت کشي علماء کرام از اين بابت قابل قدر است .

د کابل پولیتخنیک ...

ځانگي فعاليت کوي : چي په نوموړو ځانگو کي د زرو څخه زيات محصلين د ۱۱۰ تنو استادانو له خوا تدريس کيږي . البته د ساختماني له پوهنځي څخه تير کال ٤۳ تنه فارغ او سږ کال ۱۳۲ تنه به کي شامل شوي د جيولوجي او معادن له پوهنځي څخه تير کال ۱۳۱ تنه فارغ او سږ کال ۱۳ په کي شامل شوي دي البته د الکترو ميخانيکي پوهنځي څخه تير کال ۹ تنه فارغ او سږ کال ۹۲ تنه ورته شامل شوي دي. د کابل پولي تخنيك د ټولو محصلانو له جملي څخه اوس ۳۹۵ تنه ليليه دي چي د هر يوه محصل ورځني مصرف ۱۸٤۷٥ افغاني دي چي د ۳۹۵ تنو ليليه محصلينو د يوي ورځي مصارف ۷۲۹۹۲۰۵ افغاني کيږي. په پاي کي د پولي تخنيك محترم رئيس د اسلامي امارت له چارواکو څخه خپله هيله دارنگه څرگنده کړه : څرنگه چي د افغانستان د اسلامي امارت محترمو چارواکو له دي مخکي هم د لوړو زده کړو ټولو علمي موسساتو ته زيانه توجه کړي ده له دينه وروسته هم د دوي خاصه توجه او پاملرنه ورته غواړو .

اطلاعیه پوهنتون کابل

رياست پوهنځي هنر هاي زيبا غرض تدريس محصلين خويش به أعضاي جديد کادر علمي به سويه ليسانس ماستر و داکتر ضرورت دارد . کسانيکه واجد شرايط فوق باشند ميتوانند تا يك هفته در خواست هاي شانرا عنواني رياست پوهنتون کابل غرض طي مراحل بسپارند

د کندز په ولایت کي ...

هغه لوبه کي چي پرون د کندز ولايت د شايان او د ځوانانو د ټيمونو تر منځ وشوه لوبه په برابره توگه پايته ورسيده په دغه ولايت کي د لوبو لړۍ دوام لري.

طي تدویر اجتماع ...

ضمن تاکيد بر بيعت شان با امارت اسلامي تعهد سپردند که بخاطر تحکيم حاکميت امارت اسلامي و تأمين صلح و امنيت کامل در مناطق آماده همکاري و ايثار گري همه جانبه در امر تصفيه و جمع آوري سلاح از مناطق شان بوده و بخاطر همکاري با مؤظفين امارت اسلامي در منطقه از هيچ نوع خود گذري دريغ نمي ورزند.

تیم والیبال مدرسه ...

خليلي بر تيم مدرسه دارالايتام مرکزي غالب گرديدند سلسله اين مسابقات همه روزه در جمنازيوم مدرسه اماني ادامه دارد.

در ولایت لوگر بیش از ...

بلند بردن سطح توليدات زراعتي و انسجام هر چه بيشتر دهاقين مؤثر خواند تاسيس يك باب کوپراتيف زراعتي را با سرمايه سه مليون و دو صد هزار افغاني حق العضويت و يك مليون وشش صد هزار افغاني حق الشمول براي دهقانان ولايت لوگر دست آورد مهمي تلقي نمود.

موصوف در بخش حفاظه نباتات گفت: در سال گذشته بيش از يکصدو هشتاد و يك هزار و هشتصد و پنجاه و چهار اصله اشجار مثمر و غير مثمر در مقابل امراض تداوي گرديده و به مساحت يازده هزار و يکصدو سيزده هزار هکتار زمين زراعتي ادويه ضد گياهاي هرزه سبزيجات و ساير حبوبات تداوي گرديده است . همچنان در حدود يازده هزار و هشتصد راس مواشي تداوي و يکصدو نود و چهار هزار و چهار صدو نزده راس مواشي واکسين گرديده است .

موصوف علاوه نمود رياست زراعت ولايت لوگر در نظر دارد با ايجاد فارم هاي زراعتي قوريه جات و غيره تأسيسات زراعتي در راه بلند بردن سطح توليدات و انکشاف زراعت گام هاي مؤثر برداشته که در اين راستا تدابير و برنامه هاي وسيعي را روي دست دارد .

تأسیس مدرسه ...

به مساعدت مالي و علمي يك انجمن خيريه کشور ترکيه ايجاد گرديده است .

انجمن مذکور با استفاده از صلح و آرامش در مناطق تحت حاکميت امارت اسلامي مدارس مشابهي در بعضي از ولايات شمال کشور نيز ايجاد نموده و در نظر دارد تا در متباقي ولايات نيز مدارسي تأسيس نمايد . در ليسه آريانا افغان- ترك شهر کابل که حالا سه صنف هفتم دارد استادان افغاني و ترکي به تدريس مي پردازند . حقوق استادان ، مواد درسي، طعام ظهر شاگردان و تهيه يونيفورم، بدوش اداره است . تفاوت اين ليسه با مکاتب ديگر در اين است که شاگردان از طرف صبح دروس مکتب و از طرف بعد از ظهر به اموزش لسان هاي خارجي و کمپيوتر مي پردازند . شاگردان از ادامه دروس و شرايط مکتب خيلي خورسند ميباشند.

د لوګر ولایت په عامه ...

دين د ارزښتونو په رڼا کي د افغاني اصيل فرهنگ او کلتور د غوړيدني او په هيواد کي د اسلامي نظام د ټينگښت په باب د دعايي په لوستلو سره پايته ورسيده بو اړوند خبر ځاي د **باختر اطلاعاتي آژانس ته وويل د اسلامي امارت له برياليتوب او د لوگر په ولايت کي د سوله ييزي فضا له برابريدو وروسته ليکوال او شاعران په دي بريالي شويدي چي ددغه ولايت د اطلاعاتو او کلتور د رياست له لاري سره راټول شي او خپل شعرونه مقالي او ليکني په ښه توگه منعکسي کړي .**

ملك	شپږ مياشتني	کلني
	د ګڼون بيه له هيواد نه بهر	
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

تبصره

د تنباکو نړیواله ورځ او د اسلامي امارت ګټور عملي ګامونه

د صفر المظفر د مياشتي ۱۶ مه چي د غوبرگولي د مياشتي له لسمي او د دوشنبي له ورځي سره يي سمون درلود د روغتيا د نړيوالي اداري لخوا د تنباکو د نړيوالي ورځي په نوم ونومول شوه.

په ټوله نړۍ کي دا ورځ د تنباکو د نړيوالي ورځي په توگه ونمانځل شوه، د روغتيا نړيوالي اداري او نورو خيريه او عام المنفعه ادارو لخوا غونډي جوړي شوي گڼون کوونکو نړۍ د هيوادونو له چارواکو وغوښتل چي د تنباکو او له دينه د را پيدا کيدونکو ناروغيو مخه ونيسي، له خيريه ټولنو او د ملگرو ملتونو د روغتيا له اداري نه يي وغوښتل چي د تنباکو او نورو مخدراتو په ناروغيو اخته کسانو سره له دي ربړ نه د خلاصون لپاره مرسته وکړي او عامو خلکو ته يي وغوښتل چي له هر ډول نشي نه ځان وساتي.

د افغانستان اسلامي امارت هم په خپل وار په هندي ورځ بيلا بيلي غونډي وکړي او په غونډو کي محترمو ... کوونکو تنباکو او د هغي مخترعات لکه سگرټ، نسوار او نور مخدرات په ... د هغي شرعي اړخ يي روښانه کړ او هيوادوال يي د نيشو ... ته متوجه کړل راتلي په دي موقع دي خبري ته اړ تعمق وکړو چي د ملگرو ملتونو نړيواله اداره چي په خپل چوکاټ کي د تنباکو ، سگرټو، چرسو افيونو او نورو نشه کوونکو شيانو د کنترول او انسجام لپاره ډير غټ تشکيل او ... په لوړه پيمانه فنډ (بودجه) هم لري . او د افغانستان اسلامي امارت چي له اقتصادي کمزوري سره هم مخ دي او کافي امکانات هم پلاس کي نلري نو آيا په دي دواړو لوريو کي کوم يو ډير مشمر او عملي کار کړيدي ؟ نه غواړو چي د ملگرو ملتونو د مخدراتو د کنترول او انسجام د اداري د کارونو جاج او ارزونه وکړو او يايي فعاليتونه په دي اړه د اسلامي امارت له فعاليتونو سره پرتله کړو خو دومره خبره ضرور کول غواړو چي د افغانستان اسلامي امارت له خپلو ټولو امکاناتو سره دومره کار او خدمت کړيدي چي د نورو موسسو او هيوادونو له فعاليت سره بالکل د پرتلي جوگه ندي د نورو هيوادونو او ټولنو فعاليت اکثره تشريفاتي او نظري بڼه لري چي اکثره پلانونه يي لا د کاغذ پر مخ د ليکلو چانس هم ندي پيدا کړي خو اسلامي امارت په عملي ډگر کي دومره خدمت او کار کړيدي چي عيني نتايج او گټي يي د هر چا په وړاندي دي .

نړيوال يي وينې او د روغتيايي سازمانونو راپورونه ددي ادعا ثبوت دي چي د ملگرو ملتونو او د نورو هيوادونو د سلکونو ميلونو دالرو د لگښت سره سره هم په نړۍ کي د مخدره موادو د معتادينو د شمير د ډيروالي د مخنيوي او کمښت په ځاي د دوي شمير هره ورځ ډيريږي ، سوداگر يي چي اکثره يي د امريکا ، اروپا او استراليا اوسيدونکي دي د قاچاق لپاره بيلا بيلي عصري او مدرني لاري چاري کشفوي خو په مقابل کي يي د اسلامي امارت د عملي هڅو په ترڅ کي د افغانستان په تقريباً پنځه نوي فيصده خاوره کي د مخدره موادو د معتادينو شمير تقريباً له صفر سره مساوي شوي او هيڅ د سلوالي (فيصدي) په حساب کي هم نه راځي په نوره نړۍ کي په هر واټ، سرك او کوڅه کي د معتادينو غوبل وي خود اسلامي امارت تر کنترول لاندي سيمو کي به دا ډول خلك ډير کم حتي ونه ليدل شي دا ځکه چي اسلامي امارت د تبليغاتي بيانيو او تش شعارونو په ځاي عملي کارته ډيره ترجيح ورکوي.

د عاليقدر امير المؤمنين د يو ځانگړي فرمان له مخي د اسلامي اردو په قطعاتو کي د چرسو او... خو څه چي حتي د سگرټو استعمال هم بند دي . همدا راز اسلامي امارت په مخدره موادو روږدو کسانو لپاره تربيوي کمپونه جوړ کړيدي چي په دي کمپونو کي په مخدره موادو روږدو کسانو د معالجي تر څنگ د هغوي اخلاقي روزنه هم کيږي او اسلامي امارت په دي ترانيدلي دي چي د نشراتي کمپاين، د کمپونو د جوړولو، صحي معالجي ، په داخل کي د مخدره موادو د پيرلو او پلورلو د منع کولو له لاري په ټينګه يي موادو د اخته کيدو د رنځ مخه ونيسي او د روږدو کسانو اخلاقي روزنه هم وکړي همدا اوس په ټول افغانستان کي حتي د سگرټو د جوړولو يوه فابريکه هم نشته ده او د اسلامي امارت د کانو او صنايعو وزارت هم په دي اړه له چاسره پروتوکول نه دي لاسليك کړي په هيواد کي د مخدره موادو په کرلو بنديز نافذ دي، نشراتي ادارو په دي اړه ډير او د پام وړ خدمت کړيدي، او دا هغه عملي گټورونه دي چي په افغانستان کي د مخدره موادو د مخنيوي لامل شول او افغانستان ددي جوگه شو چي په مخدره موادو د روږدو کسانو په نه درلودلو د بوازيني هيواد په توگه نړيوال ريکارډ جوړ کړي

دلته دا خبره هم د يادوني وړ ده چي اسلامي امارت چي د مخدره موادو د مخنيوي لپاره څومره کار کړيدي دا چي د نړيوالي ټولني په وړاندي د خپل مسؤوليت د احساس تر څنگ يي دا خپله ديني وجيبه هم گڼلي ده ځکه چي اسلام تر هر ... څه وړاندي د بشريت ددي دښمن په له منځه وړلو اصرار کړيدي.

په پاي کي نړيوالي ټولني ته دا وايو چي که چيري نړيواله ټولنه په رښتيا هم افغانستان خپله غشوه (اشري) گڼي نو د اقتصادي ستونزو په دي سخت شيبو کي بايد ورسره هر اړخيزه مرسته وکړي او بيا نو په واړ سره ويلي شو چي افغانان به د هغو الارو په له منځه وړلو کي هم له نړيوالي ټولني سره لاس يو کړي چي حتي افغانان يي د هندي مجبوريت له مخي کرلو ته اړ دي.

SHARIAT WEEKLY
Published by
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza Karkhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press